السِّوَاكُ مَطْهَرَةٌ لِلْفَمِ، مَرْضَاةٌ لِلرَّبِّ». «مسواک د خولې د پاکۍ او د رب د خوښۍ سبب ګرځي

له عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی وایې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي دي: «السِّوَاكُ مَطْهَرَةٌ لِلْفَمِ، مَرْضَاةٌ لِلرَّبِّ». «مسواک د خولې د پاکۍ او د رب د خوښۍ سبب ګرځي».

[صحيح دی] [النسائي او احمد روایت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي دي چې د اراک ونې په لرګي سره د غاښونو مسواکول خوله له ګنده کېدو او بد بویۍ څخه پاکوي. او دا له بنده څخه د الله تعالى د راضي کېدو یو لامل دی؛ ځکه چې پدې سره د الله تعالى اطاعت او د هغه امر پر ځای کیږي او همدارانګه پدې کې پاکوالی دی چې الله تعالى یې خوښوي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3588

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee